# ډېره اسماعيل خان: د امنيتي ځواکونو بريالي عمليات دوه خوارجان جهنم ته ليګدول شوی

دډيره اسماعيل خان په کلاچي سيمه کې دخفيه معلوماتو په اساس ترسره شوؤ عملياتو کې امنيتي ځواکونو دوه خوارجيان وژلي دي۔ وسلې او چاودېدونکې توکې برآمد شوی۔

**د تفصيلاتو له مخې، امنيتي ځواکونو د ترهګرو د تګ راتګ په اړه د پټو معلوماتو له مخې کله چې دوی د ترهګريزو عملياتو په لپاره روان وو، د ترهګرو د تېښتې ټولې لارې بندې کړې۔ د مطلوب ترهګر فهيم په ګډون دوه ترهګر د ډزو په تبادله کې دوزخ ته واستول شول۔**





**وژل شوي ترهګر په تيرو ورځو کې د ايف سي اهلکارو د شهادت ترڅنګ په ګڼو ترهګريزو فعاليتونو کې لاس درلود، چې وژل يې د امنيتي ځواکونو يوه مهمه لاسته راوړنه ده۔**

په ديره اسماعيل خان او د هغې په شاوخوا سيمو کې امنيتي ځواکونه د يوې منظمې استخباراتي شبکې او يوې جارحانه تګلارې په مرسته د خوارجو په ماتولو بوخت دي، چې دوی ته د ځايي خلکو پوره ملاتړ هم حاصل دی۔ انشاءالله د خوارجو د له منځه وړلو لړۍ به دوام لري۔